مسعود سرلوڅ مرادزئ ۲۰۰۹/۰۳/۰۵م

# د رحمان بابا پر مزار ګوزار پر ټولو پښتنو ګوزار دئ !

په ټول افغان سایټ کې د ښاغلي عبدالهادي حیران دي خبر « پنجشنبې په ورځ سهار وختي نژدې پنځه بجې پېښور سره نژدې دهزارخانی په سیمه کې د رحمان بابا په مزار کې دننه یوه چاودنه وشوه چې له امله یې د پښتو د صوفي او د ټولو پښتنو د محبوب شاعر رحمان بابا قبر ویجاړ شو. نه یوازې زه پخپلو ټولو حواسو ولړزولم بلکې پوخ باور لرم چې په دې خبر به د هر پښتون د زړه ولې او رېښې همداسې لړزېدلې وي !

رحمان بابا د هر پښتون د زړه د کورشاعر دئ . په پښتنو کې به هیڅ داسې کور نه وي چې د رحمان بابا د شعرونو دیوان دې په کې نه وي . د رحمان بابا شعرونه پښتانه لکه متلونه پخپل ورځني ژوند کې کاروي .

د رحمان بابا د شعر د هسکتوب په اړه مونټ ستورات الفنستون انګریزي لیکوال او تاریخپوه د کابل د سلطنت په بیان نومي کتاب کې لیکي : « رحمان د پښتو خورا نامتو او وتلئ شاعر دئ چې شعرونه یې د قصیدو په چوکاټ کې لکه د فارسي د قصیدو غوندې ویل شوي دي . په هغو قصیدو کې چې ما ته بیان شوي دي ، ما په کې څه کمي نه دئ لېدلي او کوم شهرت چې د هغه په دې برخه کې نصیب شوئ ، نه شي ویل کېدلئ چې دئ یې مستحق نه دئ . خو د فارسي ډېرې قصیدې داسې دي چې یوه بل ته سره نه دي ورته ، په دې کې حتي د حافظ ښکلي شعورونه او تعبېرونه داسې په یوه ټولګه کې سره ورک شوي چې له دویمې درجې هم ټیټ ارزښت لري »

د پښتنو یو ستر شاعر پیر محمد کاکړ بیا د رحمان بابا په اړه پخپل یو شعر کې داسې وایي :

« جوړ په شعر کې رحمان غیب السان دئ **** نشته ده غوندې هرګز د انسان شعر »

خو د رحمان بابا همدغه په کور دننه او نړیوال شهرت دئ چې دو ښمن د هغه مزار په نښه کوی .

دا ګوزار د پښتنو پر تاریخ ، د پښتنو پر هویت او د پښتنو په شتون ګوزار دئ !

په دې ګوزار سره دوښمن د پښتنو ژبه ، کلتور ، ادب او روایات ټول په نښه کړي دی !

په دې ګوزار سره دوښمن غواړی دا وښی چې په هیڅ شان سره په دې سیمه کې د پښتنو پرېښودونکئ نه دئ !

دا ګوزار پښتنو سره د دوښمن د زړه د تل دوښمنې ښکاره کوي .

دا چې هره ورځ د ډیورند د تپلې کرښې دواړه غاړو ته په سلګونو پښتانه وژل کېږي . د پښتنو قومي مشران ، سپین ږیري ، ډاکټران ، ښوونکي ، استادان ، انجینران بې پته کېږې ، تښتول کېږي ، وهل کېږي او وژل کېږي . ښوونځي ، پلونه ، سړکونه او د ولسي ښېګڼي نورې ودانی مو ویجاړیږي او په بمونو الوځول کېږي . د هېواد د لویو پر مخونو مو تیزابونه پاشل کېږي او بې پته کېږي . د پښتنو د سپکاوي او د تاریخ د لوټاوي ډول ډول توطیې او دسیسې پکار اچول کېږي . د ټولو پښتنو یوه ټولوژنه روانه ده ، خو له دې ټولو سره سره د دوښمن زړه لا پر پښتنو یخ نه دئ او اوس یې د نیکونو او باباګانو د مزارونو پر ورانولو او ویجاړولو پسې متې رابډوهلي دي !


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د دوښمن ددغه غلچکي برید څخه داسي ښکاري چي ، د رحمان بابا پر مزار ګوزار به ، زموږ په زیارتونو او د میرنیو پر هدیرو روستئ یرغل نه وي ، کېدلئ شي له دې روسته دوی زموږ د نورو باباګانو ، اتلانو ، غازیانو او شهیدانو مزارونه په نښه کړي .

د رحمان بابا له مزار روسته زه ، د افغانانو د سترتولواک احمدشابابا، میرویس نیکه ، خوشحال بابا ، د افغانستان د خپلواکی ګټندوی غازي امان الله خان ، فخر افغان پاچاخان او ډېرو نورو میرنیو پر مزارونو د ورته بریدونو او یرغلونو څخه اندیښمن یم .

ځکه دا برید ښی چي دوښمن موږ پښتنو ته ښه کلک او ټینګ سنګر نېولئ دئ .

که پښتانه اوس هم خپل دوښمن نه پیژني او له دې روسته هم د هرې پېښي پر وړاندې بې توپیره پاتي کیږي ، نو ډېر ژر به د یوه ملت او هېواد به یي د افغانستان او لروبر پښتون په نوم د نړی پر مخ ورک شي !

د رحمان بابا پر مزار د دوښمن له برید روسته ، زه لومړئ پر ځان او بیا پر ټولو پښتنو د ارامتیا شپي او ورځي حرامي بولم . ټول باید ښېله توپیره ، ښېله دي چي څوک وو او دئ ، د پښتون په نوم سره راټول شو .

ووینی دوښمن ټول پښتانه ښېله دې چي څوک دئ او څه کوي په نښه کړي دي .

دوښمن د پښتنو تاریخ ، ژبه ، کلتور ، هدیره ، باباګان اونیکونه ټول په نښه کړي دي .

دوښمن هوډ نېولئ چي موږ پښتنو څخه هم ماضي واخلي ، هم وسمهال را څخه واخلي او اینده مو هم د یوه ملت او هېواد په ښه نه پریږدي !

په پای کي ددې څو خبرو عرض کوم :

ـــ افغان دولت او د کوزې پښتونخوا ایالتي حکومت دې په صفا ټکو کي د رحمان بابا پر مزار دا غلچکئ برید وغندئ !

افغان دولت دې د پاکستان پر دولت د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت او د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له لارې زوره واچوي چي د پېښي عاملین څونه چي ژر کېدئ شي پیدا او په وړ سزا ورسوي !

ــ په لره او بره پښتونخوا کي د ټولو وطنپالو ګوندونو او شخصیتونو څخه تمه کیږي چي دا د تاریخ تباکوونکي پېښه ، د غونډو ، لاریونونو او په رسنیو کي د پراخ تبلیغ له لارې وغندي.

ـ د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت څخه غوښتنه کیږي ، لکه څنګه یخوا چي د رحمان بابا مزار د پښتو ټولني له خوا جوړ شوئ و ، اوس هم د هغه په بیا رغاوي کي لاس پکار شي .

ـ د افغان دولت څخه تمه کیږي چي په افغانستان کي دې د افغاني میرنیو پر زیارتونو پاملرنه ولري ، چي د داسي ورته پېښو امکانات بیخي زیات دي .

ـ زه په پای کي ټولو پښتنو ته بیا خپله غوښتنه وړاندې کوم او هغه د پاچاخان دا خبره :

یا به یو کیږو ، که نه ورک کیږو !

پایان


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de